**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د د‌اډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۴** **نېټه: ۱۰ / ۳ / ۱۴۴۴ هـ ق**

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورۍ د غړو په ګډون په ۱۴۴۴/۲/۲۴ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/٦/۳۰ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د محترمې عالي شورا جلسه دایره شوه چې د یاد مجلس د اجنډا دریمه موضوع داسې وه: ((محکمې د امارتي ځمکو د غصب د مخنیوي لپاره څه ډول اجراأت وکړي؟))

د عالي شورۍ محترم مقام د ۱۴۴۴/۲/۲۴ هـ ق نېټې د (٦) ګڼه تصویب د دریېمې فیصلې پر بنسټ د پورته یادې موضوع په هکله داسې هدایت وکړ:

((کله چې د ځمکې دعوی محکمې ته ورسېږي، محکمه دې لومړی د مدعا بها ځمکې په تړاو په لیکلې بڼه د امارت د قضایاوو ریاست څخه معلومات وغواړي او ډاډ دې ترلاسه کړي چې مدعی بها ځمکه امارتي نه ده. کله چې معلومه شوه چې ځمکه امارتي نه ده، محکمه دې وروسته د موضوع په اړه خپله شرعي فیصله صادره کړي او که ځمکه امارتي ثابته شوه، نو په دې صورت کې د امارتي ځمکو د غصب د مخنیوي لپاره دې اصولي اجراأت ترسره شي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورۍ د محترم مقام د پورتني تصویب دریېمه فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.